Share
Twittern

واحد فقیري
۲۰۱۲/۰۵/۱۶

# افغانستان ته د اوباما سفر

افغانستان ته د ښاغلي اوباما سفر پداسي وخت او شکل وسو چي خامخا څه سوالونه راپورته کوي. البته، د هندوکش هېواد ته د شپې په تیارو کي سفر کول د سمبولونو تر څنګ څه ذاتي جوهر او محتوا هم لرل. د یوې خوا، یو کال پخوا، په همدې شپه شیخ اسامه بن لادن د القاعدې مشر او الهام بخښونکی تروریسټ د ای. ایس. اي په نرم غېږ کي د امریکایي کومنډو په ګوتو ګوری موری ورغلی. د بن لادن د وژولو ټوله معرکه په ۳۵ دقیقو کي ختمه سوه. عملیات دونه دقیق او کامیاب ول چي د شېخ په شمول نه چا ته د مقاومت او نه هم د مندو مجال ورکړه سو. د عملیاتو سرعت دونه حیرانونکی وو چي تر څو پاکستاني استخبارات خبرېدل، په شېخ پوري سرپ ترلي په سمندر کي ښخ وو.
د اسامه بن لادن له کوره په تازه افشاسویو اسنادو کي راغلي دي چي د القاعدې ځیني غړي پر بن لادن باندي انتقاد کوي چي ولي يې د سپتمبر یوولسمي ترویریستي حملې کولې، ځکه اوس هغوی د یو داسي جهاني طاقت په جنګ ورغلې دي چي د القاعدې شبکې د پخوانیو غړو ببخ يې وايست. هغوی وایې په نیویارک او واشنګټن کي بریدونه د القاعدې په زیان تمام سول، څکه هغوی مجبوره دي چي د ډرون له ډاره شپه او ورځ نا ارامه، وار خطاء او مواظب ناست وي. اما شېخ اسامه بن لادن په ابیټ اباد کي پاکستاني پوځي اډې ته څېرمه د خپلو مېرمنو او بچیانو تر څنګ ناست او د تروریزم او مذهبي اخ و ډب نطقونه تمرینوي.
بلخوا، په همدې شپه د افغانستان او امریکا ترمینځ ستراتیژیک موافقت لیک امضا سو. ددې سند پر اساس امریکا تر ۲۰۲۴ پوري د افغانستان له حکومت سره د مرستو ژمنه کوي. اما د کومکونو له ژمنو سره سم ځیني شرایط لکه د اداري فساد سره په کلکه مبارزه، د ښه حکومت ایجاد او تقویه، د شفافو او منصفانه انتخاباتو تضمین، او نور داسي سخت شرایط ذکر سویدي چي د کرزي صاحب فاسده او بې کفایته اداره ورسره ذاتي او عقیدتي مخالفت لري. په جنګي شرایطو کي، د کرزي صاحب په شان د ناکامو دولتونو لپاره بې کفایتي او اختلاس تر ټولو ګټور صنعت او تګلاره وي. همدا وجه ده چي په تېره لسیزه کي د کرزي صاحب حکومت په فساد کي ماشاالله بین المللي مډالونه او تقدیر لیکونه ترلاسه کړي دي.
په عین حال کي، ښاغلي اوباما د بګرام په وینا کي وویل: موږ د افغانستان د ښارونو او غرونو د ساتلو او ګزمو مسولیت نلرو، دا د افغانانو مسولیت دی. موږ افغانستان ته د القاعدې د ځپلو او ماتولو لپاره راغلي وو، موږ اسامه وواژه او د القاعدې لیډرشیپ مو پوره ځپلی دی. اوباما زیاته کړه موږ د طالبانو سره په خبرو لګیا یو. موږ نه غواړو چي افغانستان د امریکا په شان او رنګ جوړ کړو. موږ په افغانستان کي دایمي اډې نه غواړو. موږ ددې جنګ ختمول او ددې فصل تړل غواړو.
ددې تر څنګ، د افغانستان او امریکا تر مینځ د ستراتیژیک موافقت لیک په ډېرو برخو کي ابهامونه او مشکلات سته. جزییات پکي ډېر کم دي. د مثال په توګه، د مرستو اندازه نده څرګنده سوې. کوم هېوادونه به دا مرستي برابروي؟ څونه امریکایي عسکر به د افغانستان په کومو اډو کي پراته وي؟ که یو امریکایي عسکر په افغانستان کي کوم جرم وکړي، ایا څوک به جزا ورکوي؟ که یوه خوا خپل تعهدات پوره نه کړي، د هغه سره به څرنګه معامله کیږي؟ لنډه دا چي په موافقت لیک کي دا حیاتي مسایل نه واضح او نه هم ذکر سوي دي. پدې برخه کي، موافقت لیک چوپ او ګونګی دی.
ددې سفر یو بل فکټور په امریکا کي د جمهوري ریاست راتلونکي انتخابات هم دي. د اوباما ټیم ښه پوهیږي چي د امریکا انتخابات اکثرا د داخلي اقتصاد قوت او انکشاف ټاکي. په اقتصاد کي، اوباما ښه ډېر مشکلات لري، مګر په خارجي سیاست او پالیسیو کي هغه څو مهمي لاسته راوړني لري. د مثال په توګه، د عراق جنګ ختمول، د بن لادن وژل، د افغانستان د جګړې د ختمولو لپاره تقسیم اوقات لرل، په اروپا او اسیا کي امریکایي ضد احساسات راکمول، او په عمومي توګه د بهرنیو جنجالونو څخه امریکا را ګوښه کول، د اوباما بریالیتوبونه او د قوت ټکي دي.
بله مسله دا ده چي د ښاغلي اوباما لدې محتوایي او سمبولیک سفر سره سره، د چارو مبصبرین د هېواد سیاسي راتلونکي اندېښمن کړي دي. امریکا او ایتلافي ملګرو يې د ۲۰۱۴ په پای کي له افغانستانه د خپلو قواوو د رایستلو فیصله کړې ده؛ ښاغلي اوباما د بګرام په وینا کي هم پر دې ټکي ټینګار وکړ. په افغانستان کي، د ناټو عمومي قومندان جنرال الن لګیا دی چي تر ټاکلي نېټې څخه مخکي امریکایي عسکر راوباسي. همدا راز، د فرانسې نوی جمهورریس اعلان وکړ چي فرانسوي عسکر به د ۲۰۱۲ په پای کي له افغانستانه را و ایستل سي.
پدې حالت کي، اکثره خلګ فکر کوي چي د کابل حکومت د بهرنیانو له پوره ملاتړ څخه پرته ثبات او سوله نه سي ساتلای. حتی ښایي د ځان په ساتلو هم و نه توانیږي. بلکي اغلب ګومان دا دی چي د کابل دولتي ورګانونه او اشخاص به د جنګ، تخریب، او تشدد په خورولو کي پوره ونډه ولري. د حکومت زیاتره امنیتي اورګانونه به پر مختلفو مقتدرو کسانو باندي راغونډ سي. هغوی ته به وفادار وي، نه مرکزي حکومت ته. د هغوی اطاعت به کوي او د هغوی منافع به ساتي، نه د کابل اداري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په داسي شرايطو کي به د افغانستان سياسي مستقبل څه شان وي؟ تر اوسه پوري د راتلونکي په اړه چا يو منطقي، عملي، او قانع کونکې تيوري او مکانيزم ندي وړاندي کړي. البته، يو سبب ښايي دا وي چي موضوع څه جنجالي ده؛ ملي عواطف راښکېلوي؛ او سمدستي د داخلي جنګ توره بلا د بينادم سترګو ته دروي. لنډه داچي دا مسله او بحث د خلګو احساسات او روح څوروي. په هر حال، د افغانستان مستقبل کي درې احتماله ډېر قوي برېښي.

يو احتمال مصالحه، ملي روغه جوړه، او د يو ايتلافي حکومت حل دی. مانا طالبان، د کابل اداره، او امريکا به اوسنی سياسي بحران او بن بست په سياسي مذاکراتو او متقابل انعطاف مهار او يا حل کړي. هره خوا به څه سازش، څه نرمښت، او څه د قدرت او منافعو منصفانه وېش ته غاړه ايږدي. که دا ډول معامله او پخلاينه وسي، دا به تر ټولو ښه او مناسبه د حل لاره وي. په جهان کي اکثره داخلي جنګونه په سوله او مذاکرتو باندي فيصله سوي دي. د افغانستان لنډ تاريخ ښيي که چيري د خارجي قواوو تر وتلو را وروسته په کابل کي له سياسي معقوليت او انعطاف څخه ښکاره سرغړوني وسي، عواقب يې ټول ملت ته ډېر زيانمن وي. بلخوا، د طالبانو د عالي رتبه او مقتدر غړي معتصم اغا جان وروستۍ څرګندوني چي وايي اکثريت طالبان سياسي حل غواړي، خو يوه وړه ډله د جنګ دوام غواړي، هم د سياسي مصالحې دريځ غوره او غښتلی کوي. په کابل کي، د مولوي ارسلا رحماني ترور هم ښايی د اعتدالي طالب مشرانو د وژلو سلسله وي چي په افغانستان او پاکستان کي له څه مودې راهيسي جريان لري. همدا راز، د طالبانو زياتېدونکي خپلمينځي اختلافات د خبرو او مصالحې لپاره ښه شرايط برابر کړي دي.

بل احتمال داخلي جنګ دی. هغه د ۱۹۹۰ کلونو کيسه به په بل شکل او درجې باندي تکرارېږي. طالبان به جنوبي سيمي خورا ژر وينسي، او د کابل په لور به مارش وکړي. په شرق کی به هم ډېر ژر مهم ځايونه او ښارونه ونيسي. په غرب کي، فراه، نيمروز، او د هرات ډېري سيمي به هم په منډه ونيسي. په کابل کي به اوسنی حکومت پر ځو متخاصمو ډلو باندي ووېشل سي، او په شمال کي به هم هر والي او زورواک محلي خلګ تر خپلي ولکې لاندي کړي. د کابل ادارې ځيني متقدر کسان به د طالبانو سره معامله وکړي، او نور به د شمال ايتلاف له مشرانو سره جنګ، تخريب، او قتل ته دوام ورکړي. د شر او فساد ( ۱۹۹۰) په شان به د هېواد په ګوټ ګوټ کي قومندانان د خپلو توپکيانو په مټ حاکم او جابر وي.

او بالاخره درېيم احتمال دا دی چي طالبان به ټول افغانستان تر کنټرول لاندي کړي. دا ځل طالبان په شمال کي په ښه وضع کي دي ځکه دا وار هغوی هلته منظمي جبهې او جوړښتونونه لري. حال دا چي د ۱۹۹۰ په کلونو کي طالبانو په شمالي ولاياتو کي هيڅ سابقه نلرله، خو اوس طالبان د شمال په ټولو ولاياتو کي فعال او محسوس حضور لري. په شمال کي، اوزبک، تاجيک، چيچين طالبان او نوري وړې مذهبي افراطي ډلي فعاليت کوي. دغه راز، دا ځل پخواني جنګسالاران زاړه، چاغ، او ميلونران سوي دي. هغوی د جنګ شوق او جذبه نلري، او قريب ټول د مرکزي اسيا، عربي، او غربي هيوادونو کي پانګوني لري، هغوی نه غواړي چي خپل ملکيتونه له لاسه ورکړي. د هغوی بچيان او خپلوان په ناز او نعمت کي ژوند کوي. د وارلاډانو عياش او اسرافي ژوند د عامه خلګو کرکه راپارولې ده. په عامه خلګو کي د هغوی لپاره هيڅ وفاداري او سيمپتي نسته.

مګر د طالبانو تر سخت مذهبي رژيم لاندي ژوند کول به نه يوازي اکثرو افغانانو لپاره مشکل وی بلکي بې خونده او رنګه به هم وي. طالبان د عصري ژوند له اساساتو سره مخالفت لري. هغوی د عصري علومو، مکتبونو، او تيلويزيون مخالف دي. د هغوی حکومتي تيوري پر زور او ډار باندي تکيه لري. هغوی غواړي چي ټول افغانستان په يوه غټ محبس باندي بدل کړي.

والسلام


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ